الدرس الثاني | دوهم درس

قصة الخلق | د پيدائش واقعه

الله تعالى چې کله د ټولو انسانانو پلار آدم عليه السلام د خټې نه پيداء کړو ، او بيا ئي پکښې روح واچولو ، د ځيزونو نومونه ئي ورته وراوښودل ، او ملائکو ته ئی حکم وکړو چې سجده ورته وکړی د هغه د اکرام او عزت دپاره ټولو ملائکو سجده وکړه صرف ابليس د سجدی کولو نه انکار وکړو ، لوئۍ ئی وکړه او د آدم عليه السلام سره ئي حسد شروع کړو ، الله تعالى د آسمان نه راوشړلو ذليله ئي کړو ، او د لعنت بدبختي او د أور فيصله ئي وربان‍دی وکړه ، أبليس د الله تعالى نه مهلت أوغښتلو د قيامت د ورځې پوری ، الله تعالى ورله مهلت ورکړو ، ابليس قسم وکړو چې د آدم عليه السلام ټول أولاد به ګمراه کوم ، دی نه روستو الله تعالى د آدم عليه السلام بی بی حواء عليه السلام پيداء کړه ، چې سکون او آرام ورسره حاصل کړی ، دواړو ته الله تعالى حکم اوکړو ، چې جنت کښې أوسيږی هر قسمه نعمت خوری ، صرف د يوی ونۍ د جنت د خوراک نه ئی امتحانا منع کړل ،او الله تعالى ورته د شيطان د دشمنۍ باره کښې خبر ورکړی وو ، ابليس ورته وسوسه واچوله او ددی ونۍ خوراک ئي ورته خايسته کړو ،او قسم ئی ورته وکړو چې زه ستاسو خيرخواه يم ،که دا ونه تاسو أوخوړه نو تاسو به دلته جنت کښې هميشه پاتې شی ، تر دی پوری چې دغه نافرمانۍ ئی تری سرزد کړه د الله تعالى نافرمانۍ کښی واقع شو ، او په خپل کار باندی ښيمانه شو او الله تعالى ته ئي توبه أوباسله الله تعالى د هغوی توبه قبوله کړه ، الله تعالى آدم عليه السلام او حواء عليه السلام د جنت نه زمکې ته راکوز کړل ، او بے شميره اولاد ئي ورکړو چې تر قيامت پوری په دنيا کښې آباد وی او شيطان هميشه دپاره د آدم عليه السلام اولاد د ګمراه کولو کوشش کوی ، د خير نه ئي محرومه وی شر ورته ډولۍ کوی ، د الله تعالى د رضاء نه ئي لری کوی ، او د جهنم په لار باندی ئی روانی وی ، اکن الله تعالى خپل بندګان بے اسری ندی پريښولي بلکه وخت په وخت باندی ئي رسولان راليږلی دی ، چې دالله تعالى بندګان هدايت طرفته راوبلۍ ، د آدم عليه سلام د وفات نه پس د آدم عليه السلام اولاد تر لسو پيړو پوری په توحيد باندی وو ، بياپکښی شرک پيداء شو د الله تعالى سره ئي شريکان جوړ کړل ، د بوتانو عبادت ئی شروع کړو ،اولنی رسول د شرک د رد دپاره الله تعالى نوح عليه السلام راوليږو ، خلق ئی د الله تعالى توحيد ته رابللو، بيا د هغه نه روستو الله تعالى پرلپسی پيغبران راوليګل ، ابراهيم عليه السلام الله تعالى خپل قوم ته راوليږلو چې الله تعالى توحيد ته خلق راوبلۍ او نبوت بيا الله تعالى د ابراهيم عليه السلام په اولاد کښې اسماعيل او اسحاق عليه عليهم السلام ته ورکړو ، بيا پغيبران د اسحاق عليه السلام په اولاد کښی راتلل چې مشهور په کښې يعقوب ، يوسف ، موسی ، داود ،سليمان ،عيسی صلوات الله عليهم دی، د عيسی عليه السلام نه روستو نبوت د داولاد د اسحاق عليهم السلام نه نقل شو ، اولاد د اسماعيل عليه السلام ته او الله تعالى پکښې محمد ﷺ د نبوت دپاره غوره کړو ، د پيغبرانو خاتم ئی وګرځولو او قران کريم ئی وربان‍دی نازل کړو چې د الله تعالى د طرفنه پيغام دی ټولو انسانانو ته ترقيامت د ورځې پوری ، او د نبی کريم ﷺ رسالت ټولو انسانانو او پيريانو ته شامل دی ، عربو عجموته هری زمانۍ ته شامل دے الله تعالى د قيامت په ورځ به هغه دين قبلوۍ کوم دين باندی چې محمد ﷺ راتګ کړی دے .